د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

میدان وردګ ولایت

وردګ پوهنتون

د علمي او محصلانو چارو معاونیت

کرنې پوهنځی

د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان کمېټه

# د کرنې پوهنځی اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان (۱۴۰۵ – ۱۴۰۹) ل. ل لنډیز




کال: ۱۴۰۵ ل ل

## ځانګړنې

عنوان: د کرنې پوهنځي اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان له ۱۴۰۵ – ۱۴۰۹ ل. ل

د پاڼو شمېر: ۱۱۲

د کرنې پوهنځي د ستراتیژیک پلان کمېټې د تصویب نېټه: ۲۲ / ۴ / ۱۴۰۵ هـ ش

د کرنې پوهنځي د علمي شورا د تصویب نېټه: ۲۳ / ۴ / ۱۴۰۵ هـ ش

د پوهنتون د پلان او پآلیسی کمېټې د تصویب نېټه: / / ۱۴۰۵ هـ ش

د پوهنتون د علمي شورا د تائیدنېټه: / / ۱۴۰۵ هـ

پته: د ټوپ دښته، د داخلي پولیسو روزنیز مرکز ته څېرمه – میدان وردګ ولایت - افغانستان

ایمېل آدرس: info@wu.edu.af

ویب پاڼه: www.wu.edu.af

# فهرست


سرلیکونه ........ مخونو شمېره

د کرنې پوهنځي د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان چارچوب ........ 1

د اوږد مهاله (**ستراتیژیک**) پلان د مفاهیمو تعریف ........ 2

د کرنې پوهنځي  تاریخچه ........ 4

د کرنې پوهنځي د استادانو او اداري کارکونکو  تشکیلاتي چارت ........ 5

د کرنې پوهنځي د استادانو احصائیه........ 6

د کرنې پوهنځي د محصلینو اړوند معلومات ........ 6

د کرنې پوهنځي اوسنی کړنې........ 7

لرلید (Vision)........ 9

رسالت (Mission) ........ 9

ارزښتونه........ 9

اوږد مهاله (ستراتیژیکي) موخې ........ 9

د چاپېریالي عواملو تحلیل (SWOT Analysis)........ 11

د بېروني چاپېریال د عواملو تحلیل او تجزیه ........ 11

د کرنې پوهنځي د داخلي او بېروني چاپیریال د عواملو پرتله کول........ 12

د (IE) تګلاره........ 12

د داخلي او بېروني (IE) مټریکس له مخې د کرنې پوهنځي د اوسني اوږد مهاله (ستراتیژیک) موقعیت ټاکنه ........ 12

د داخلي او بیروني (IE)  روش په ذریعه د پوهنځي اوسنی موقعیت ........ 13

د داخلي او بېروني (IE) چاپیریال نهه خانه یې طریقې په واسطه د کرنې پوهنځي اوسنی موقعیت ........ 14

**د کرنې پوهنځي د رئیس پیغام**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**الحمد لله رب العالمین، والصلوة والسلام علی سیدنا محمد وعلی آله وأصحابه أجمعین، أما بعد!**

علم او پوهه د اسلامي ټولنې د پرمختګ، د اقتصادي ودې او د هېواد د هراړخیزې پرمختیا بنسټیز عوامل دي. په همدې اساس، د لوړو زده کړو بنسټونه د داسې متخصصو او متعهدو کادرونو په روزنه کې اساسي رول لري چې د مملکت د اړتیاوو د پوره کولو، د ستونزو د حل او د دوامدار پرمختګ لپاره اغېزمن خدمتونه ترسره کړي. کرنه د افغانستان د اقتصاد ملا تیر، د خوړو د خوندیتوب اساسي سرچینه او د میلیونونو هېوادوالو د ژوند د تأمین مهمه وسیله ده؛ له همدې امله د کرنې د برخې  پیاوړتیا د افغانستان د اقتصادي ځان بسیاینې او دوامدار پرمختګ لپاره ځانګړې اهمیت لري.

د وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځی په ۱۳۹۳ هـ.ش کال کې د اګرانومي او هارټیکلچر په دوو علمي څانګو کې خپل فعالیت پیل کړ. د وخت په تېرېدو سره یې علمي، اداري او فزیکي ظرفیتونه د پام وړ پراختیا موندلې ده. اوسمهال پوهنځی د متخصصو استادانو، علمي او اداري کارکوونکو، ښېرازه فارم او نورو تدریسي اسانتیاوو په مټ د افغانستان د کرنیزې برخې لپاره د مسلکي، متعهدو او علمي کادرونو په روزنه بوخت دی. د کرنې پوهنځي سلګونه فارغان نن د افغانستان په بېلابېلو دولتي او خصوصي ادارو، کرنیزو مؤسسو او پراختیایي پروژو کې د هېواد د پرمختګ لپاره ارزښتناک خدمتونه ترسره کوي.

د علمي کیفیت لوړول، د څېړنو پراختیا، د عملي زده‌کړو پیاوړتیا، د نوښت او ابتکار دودول، د کیفیت لوړاوي معیارونو پلي کول، د معلوماتي ټکنالوژۍ څخه اغېزمنه ګټه اخیستنه او له کورنیو او نړیوالو علمي او مسلکي بنسټونو سره د همکاریو پراختیا د کرنې پوهنځي له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. په همدې موخه د پوهنځي لپاره ښېرازه فارم رامنځته شوی، د لابراتوارونو د تجهیز او فزیکي زیربناوو د پیاوړتیا پروژې رواني دي، او د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کې د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو د بشپړ پلي کېدو لپاره جدي او دوامداره هڅې ترسره کېږي. د همدې اړتیاوو او راتلونکو پرمختیایي موخو ته په کتو، د وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي د ۱۴۰۵–۱۴۰۹ هـ.ش کلونو پنځه کلن اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان د لوړو زده کړو وزارت د لارښود، د وردګ پوهنتون د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان، د پوهنځي د واقعي ظرفیتونو او د کرنیز سکتور د اړتیاوو په پام کې نیولو سره ترتیب او تدوین شوی دی. په دې پلان کې د پوهنځي لیدلوری، مأموریت، ارزښتونه، اوږد مهاله (ستراتیژیکې) موخې، علمي او څېړنیزې برنامې، اداري پراختیا، د کیفیت لوړول، ټولنیز مسئولیتونه او د پلي کېدو میکانیزمونه په هر اړخیز ډول تشریح شوي دي، ترڅو کرنې پوهنځی وکولای شي په راتلونکو پنځو کلونو کې د علمي کیفیت، څېړنو، عملي زده‌کړو او ټولنې ته د خدمت په برخو کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته کړي. موږ باور لرو چې د دې اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان بریالی تطبیق د استادانو، محصلینو، اداري کارکوونکو، د وردګ پوهنتون د رهبرۍ، د لوړو زده کړو وزارت او ټولو همکارو ادارو د ګډو هڅو او همغږۍ پرته ممکن نه دی. له همدې امله هیله لرو چې د ټولو ذیربطو بنسټونو په همکارۍ به وکولای شو د کرنې پوهنځي علمي او څېړنیز ظرفیتونه لا پیاوړي، د تدریس کیفیت لا لوړ او د هېواد د کرنیز سکتور د اړتیاوو د پوره کولو لپاره اغېزمن ګامونه پورته کړو.

په پای کې د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان د کمېټې له ټولو غړو، د کرنې پوهنځي له محترمو استادانو، اداري کارکوونکو او ټولو هغو اشخاصو څخه چې د دې پلان په ترتیب او تدوین کې یې په اخلاص او مسؤلیت سره ونډه اخیستې ده، د زړه له کومې مننه کوم او د الله تعالی له درباره ورته د لانورو خدمتونو د تر سره کولو توفیق غواړم.

**په درنښت**

**پوهنمل دکتور عبدالکریم امین**

**د کرنې پوهنځي رئیس**

د کرنې پوهنځي د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان چارچوب

د پوهنځیو لپاره د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان په چوکاټ کې دوه ماډلونه وړاندیز شوي، کرنې پوهنځی اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان جوړښت د لاندې ماډل له مخې جوړ کړی دی.




۱. شکل: د کرنې پوهنځي د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان چوکاټ

## د اوږد مهاله (ستر اتیژیک) پلان د مفاهیمو تعریف

**مفاهیم:** مفاهیم هغه بنسټیز اصطلاحات او علمي مفکورې دي چې د پوهنځي د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان په جوړونې، پلي کولو، څارنې او ارزونې په بهیر کې اساسي رول لري. د دغو مفاهیمو روښانه تعریف د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان د موخو، تګلارو او اجراآتو د سم درک او اغېزمن پلي کولو لپاره اړین دی. په لاندې برخه کې د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان مهم مفاهیم تعریف شوي دي.

**پلان:** پلان یوه منظمه، علمي او موخه لرونکې طرحه ده چې د ټاکلو موخو د ترلاسه کولو لپاره چمتو کېږي. په پلان کې موخې، فعالیتونه، مسؤلیتونه، اړینې سرچینې، د اجراء مهالویش، د ارزونې شاخصونه او د پلي کولو میکانېزم په روښانه ډول مشخص کېږي، ترڅو ټاکلې موخې په خپل وخت تر لاسه شي.

**د پلان موخه:** د پلان موخه د فعالیتونو منظمول، د سرچینو اغېزمنه کارونه، د مسؤلیتونو روښانه کول، د لومړیتوبونو ټاکل او د ټاکل شویو موخو د تحقق لپاره د مناسبې لارې چارې برابرول دي. پلان د تصمیم نیولو بهیر اسانه کوي، د فعالیتونو ترمنځ همغږي رامنځته کوي او د ټاکلي وخت په چوکاټ کې د مطلوبو پایلو د ترلاسه کولو زمینه برابروي.

**ستر اتیژي:** ستراتیژي یوه اوږدمهاله او موخه لرونکې تګلاره ده چې د پوهنځي د لیدلوري، ماموریت او اوږد مهاله (ستراتیژیکو) موخو د تحقق لپاره د داخلي ظرفیتونو، فرصتونو، امکاناتو او شته سرچینو په اغېزمنه توګه کارولو سره طرحه او پلي کېږي. ستراتیژي د ستونزو د حل، د فرصتونو د اغېزمنې استفادې او دوامدار پرمختګ لپاره اساسي لارښود ګڼل کېږي.

**اوږد مهاله (ستر اتیژیک) پلان:** اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان هغه جامع، منظم او اوږدمهاله سند دی چې د پوهنځي لیدلوری، ماموریت، ارزښتونه، اوږد مهاله (ستراتیژیکې) موخې، د داخلي او بهرني چاپېریال تحلیل، ستراتیژۍ، عملي برنامې، د فعالیت شاخصونه او د ارزونې میکانېزم په کې تنظیمېږي. دا پلان د پوهنځي د علمي، څېړنیزو، اداري او ټولنیزو فعالیتونو د اغېزمنتیا، کیفیت لوړونې او دوامدار پرمختګ لپاره د عمل لارښود ګڼل کېږي او د پوهنتون له عمومي اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان او د لوړو زده کړو وزارت له پالیسۍ سره په همغږۍ ترتیبېږي.

**اوږد مهاله (ستر اتیژیک) مدیریت:** اوږد مهاله (ستراتیژیک) مدیریت د مدیریتي پرېکړو، فعالیتونو اوپروسو یوه منظمه مجموعه ده چې د پوهنځي د اوږد مهاله (ستراتیژیکو) موخو د تر لاسه کولو لپاره د داخلي او بهرني چاپېریال د تحلیل، د سرچینو د اغېزمن مدیریت، مناسبې رهبرۍ او دوامدارې ارزونې پر بنسټ ترسره کېږي.

**د اوږد مهاله (ستر اتیژیک) پلان جوړونه:** دا د اوږد مهاله (ستراتیژیک) مدیریت لومړنی پړاو دی چې په کې د پوهنځي لیدلوری، ماموریت، ارزښتونه، اوږد مهاله (ستراتیژیکې) موخې، د داخلي او بهرني چاپېریال تحلیل، اوږد مهاله (ستراتیژیک) وضعیت او لومړیتوبونه ټاکل کېږي او د عملي کولو لپاره مناسبې ستراتیژۍ غوره کېږي.

**د اوږد مهاله (ستر اتیژیک) پلان پلي کول:** دا د اوږد مهاله (ستراتیژیک) مدیریت دویم پړاو دی چې په کې ستراتیژۍ په عملي فعالیتونو بدلېږي. په دې پړاو کې کلني عملیاتي پلانونه، د مسؤلیتونو وېش، د سرچینو تخصیص، د فعالیتونو همغږي، د اجراآتو مدیریت او د پالیسۍ تطبیق ترسره کېږي.

**ارزونه:** دا د اوږد مهاله (ستراتیژیک) مدیریت درېیم پړاو دی چې د ستراتیژیک پلان د پلي کېدو، لاسته راوړنواو اغېزمنتیا د ارزولو لپاره ترسره کېږي. د ارزونې پایلې د اصلاحاتو، تصمیم نیونې او راتلونکو پلانونو د ښه والي لپاره بنسټ برابروي.

**لیدلوری:** په راتلونکې کې د پوهنځي هغه مطلوب حالت دی چې غواړي د خپلو علمي، څېړنیزو او ټولنیزو فعالیتونو له لارې په ټاکلي وخت کې ورته ورسېږي.

**ماموریت:** د پوهنځي د شتون فلسفه، اساسي دنده او مسؤلیت بیانوي او څرګندوي چې پوهنځی د کومو موخو لپاره، د چا لپاره او د کومو علمي او مسلکي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه فعالیت کوي.

**موخه:** موخه هغه مطلوبه پایله ده چې پوهنځی غواړي د ټاکلي وخت په موده کې یې ترلاسه کړي. موخې باید روښانه، د اندازه کولو وړ، د ترلاسه کولو وړ، ریښتینې او د وخت له پلوه مشخصې (SMART) وي.

**ارزښتونه:** ارزښتونه هغه بنسټيز اخلاقي، علمي او مسلکي اصول دي چې د پوهنځي ټولې علمي، اداري او څېړنيزې چارې پرې ولاړې وي او د پرېکړو، فعاليتونو او پرمختګ لپاره لارښوونه کوي.

**د داخلي چاپېريال د تحليل ماتريکس(IFE) :** دا هغه تحليلي وسيله ده چې د پوهنځي داخلي عوامل؛ لکه انساني سرچينې، علمي ظرفيت، مالي امکانات، اداري جوړښت، فزيکي اسانتياوې او نور داخلي ځواک او محدوديتونه ارزوي. د دې تحليل په پايله کې د پوهنځي پياوړتياوې او کمزورتياوې مشخصېږي.

**د بهرني چاپېريال د تحليل ماتريکس(EFE) :** دا هغه تحليلي وسيله ده چې د پوهنځي پر فعاليتونو اغېز لرونکي بهرني عوامل؛ لکه اقتصادي، سياسي، حقوقي، ټولنيز، فرهنګي، تخنيکي او علمي بدلونونه ارزوي. د دې تحليل په پايله کې فرصتونه او ګواښونه مشخصېږي.

**د داخلي او بهرني عواملو ماتريکس(IE Matrix) :** دا يو اوږد مهاله (ستراتيژيک) تحليلي چوکاټ دی چې د داخلي او بهرني عواملو د ارزونې پايلې سره يوځای کوي او د پوهنځي اوږد مهاله (ستراتيژيک) موقعيت ټاکي، ترڅو د مناسبو ستراتيژيو (تګلارو) د انتخاب لپاره علمي بنسټ برابر شي.

**SWOT تحليل:** SWOT د پياوړتياوو(Strengths) ، کمزوريو(Weaknesses) ، فرصتونو (Opportunities) او ګواښونو (Threats) تحليلي چوکاټ دی. دا وسيله د پوهنځي د داخلي او بهرني چاپېريال د ارزونې او د مناسبو ستراتيژيو (تګلارو) د ټاکلو لپاره کارول کېږي، ترڅو پياوړتياوې د فرصتونو سره يوځای او کمزورتياوې او ګواښونه په اغېزمن ډول مديريت شي.

**پياوړتيا:** پياوړتيا هغه داخلي وړتيا، سرچينه، ظرفيت يا ځانګړتيا ده چې د پوهنځي د علمي، څېړنيزو او اداري موخو د تر لاسه کولو په برخه کې اغېزمن رول لري او د نورو ورته پوهنځيو په پرتله يې برلاسی زياتوي.

**کمزورتيا:** کمزورتيا هغه داخلي محدوديت، نيمګړتيا يا د سرچينو کموالی دی چې د پوهنځي د فعاليتونو اغېزمنتيا کموي او د اوږد مهاله (ستراتيژيکو) موخو د لاسته راوړلو پر وړاندې خنډ رامنځته کوي.

## د کرڼې پوهنځي تاریخچه

د وردګ پوهنتون کرنې پوهنځي په ۱۳۹۳ هـ.ش کال (۲۰۱۴ میلادي) کې، د وردګ پوهنتون د تأسیس سره هم مهاله، د اګرانومي اوهارتیکلچر په څانګو کې خپل علمي فعالیت پیل کړ. د فعالیت په لومړیو کې پوهنځي د دریبو کادري استادانو په درلودلو سره د کرنې په برخه کې د مسلکي او علمي کادرونو د روزنې مسؤلیت پر غاړه واخیست.

د وخت په تېرېدو سره د پوهنځي علمي، اداري او فزیکي ظرفیتونه په تدریجي ډول پراخ شوي دي. اوسمهال د کرنې پوهنځي ټول تشکیل (۲۰ )بستونو ته رسېږي، چې له دې ډلې (۱۲ )تنه کادري غړي دي. د پوهنځي ټول استادان د ماسټرۍ او دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې لري او د تدریس، علمي څېړنو او ټولنیزو خدمتونو په برخو کې خپلې دندې ترسره کوي. سربېره پر دې، پوهنځی څلور تنه اداري کارکوونکي، دوه تنه بنوالان او دوه تنه خدماتي کارکوونکي لري، چې د پوهنځي د علمي او اداري فعالیتونو په اغېزمنه توګه د پرمخ وړلو لپاره خدمت کوي.

اوس مهال د کرنې پوهنځي د اګرانومي او هارټیکلچر دوو څانګو کې (۲۱۸ )تنه محصلین په زده کړو بوخت دي. دغه پوهنځي د خپل فعالیت له پیل څخه تر اوسه پورې ۶۵۸ تنه محصلین فارغ کړي، چې د افغانستان په بېلابېلو امارتي او خصوصي ادارو، کرنیزو مؤسسو او پراختیايي پروژو کې د مسلکي کادرونو په توګه د ټولنې خدمت کوي.

د پوهنځي د علمي او څېړنیزو ظرفیتونو د پیاوړتیا په موخه، په ۱۴۰۳ هـ.ش کال کې د لوړو زده کړو محترم وزارت له لوري د کرنې پوهنځي لپاره په ۱۸ جریبه ځمکه کې یو مجهز څېړنیز فارم جوړ او د استادانو او محصلینو د ګټې اخیستنې لپاره وسپارل شو. دغه څېړنیز فارم د عملي زده‌کړو، علمي څېړنو، کرنیزو تجربو او ترویجي فعالیتونو لپاره مناسب چاپېریال برابر کړی دی. اوسمهال د پوهنځي استادان او محصلین خپلې علمي، څېړنیزې او عملي چارې په همدې فارم کې ترسره کوي، چې د تدریس د کیفیت د لوړوالي، د عملي مهارتونو د پیاوړتیا او د څېړنیز فرهنګ د ودې په برخه کې یې ارزښتناک رول لوبولی دی.

همدارنګه، په ۱۴۰۵ هـ.ش کال کې د کرنې پوهنځي د ودانۍ د بشپړ ترمیم او بیارغونې پروژه د لوړو زده کړو محترم وزارت له لوري پیل او د پلي کېدو په حال کې ده. د دې پروژې په بشپړېدو سره به د پوهنځي فزیکي زیربناوې لا معیاري شي او د استادانو، محصلینو او اداري کارکوونکو لپاره به د تدریس، زده‌کړو، څېړنو او اداري فعالیتونو مناسب او معیاري چاپېریال برابر شي.

همدارنګه، په ۱۴۰۵ هـ.ش کال کې د کرنې پوهنځي د څېړنیز فارم د تجهیزاتو او د لابراتوار د تجهیز او پیاوړتیا پروژه هم د پوهنتون په انکشافي بودیجه کې شامله شوې ده، چې ټاکل شوې په همدې کال کې په عملي ډول پلي شي. د دغې پروژې په بشپړېدو سره به د پوهنځي د عملي زده کړو، علمي څېړنو، لابراتواري فعالیتونو او کرنیزو تجربو کیفیت لا لوړ شي او د استادانو او محصلینو لپاره به د معیاري عملي زده‌کړو زمینه لا نوره هم پراخه شي.

د علمي کیفیت لوړول د کرنې پوهنځي له اساسي لومړیتوبونو څخه دي. د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره، پوهنځي د کیفیت د تضمین او دوامدار پرمختګ په موخه اته تخصصي کمېټې رامنځته کړې دي، چې عبارت دي له: د کیفیت لوړاوي کمېټه، د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان کمېټه، د څېړنو کمېټه، د نصاب کمېټه، د ازموینو کمېټه، د الکترونیکي زده‌کړو، فرهنګي او نشراتو کمېټه، د نظم، دسپلین، دعوت او ارشاد کمېټه او د محصلانو د همغږۍ او سپورت کمېټه. یادې کمېټې خپلې دندې د ټاکل شویو لایحو او کړنلارو له مخې په منظم ډول ترسره کوي او د پوهنځي د علمي او اداري چارو د کیفیت په لوړولو کې مهم رول لري.

د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کې کرنې پوهنځي د لوړو زده کړو وزارت د نوي چک لېست له مخې ټول یولس (۱۱) معیارونه ترتیب، تنظیم او مستندسازي کړي دي، او د هر معیار اړوند اسناد او شواهد یې په منظم ډول برابر کړي دي. په دې برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي، او پوهنځي د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو د دوهمې مرحلې د ارزونې د ترسره کېدو لپاره په بشپړه توګه چمتووالی لري.د کرنې پوهنځي د پنځه کلن اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان ترتیب او تدوین هم د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان کمېټې له مهمو لاسته راوړنو څخه شمېرل کېږي، چې د پوهنځي د علمي، څېړنیزو او اداري فعالیتونو د منظم پرمختګ لپاره به د یوه بنسټیز لارښود سند په توګه ترې کټه اخیستل کېږي. د یاد اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان پلي کېدل به د پوهنځي د علمي کیفیت، څېړنیزو فعالیتونو، اداري اغېزمنتیا او ټولنیزو خدمتونو د لا پرمختګ لپاره قوي بنسټ برابر کړي.

**د کرنې پوهنځي د استادانو او اداري کارکونکو تشکیلاتي چارټ**

کرنې پوهنځي د دوه دیپارتمنتونوبه درلودلو سره خپلې چارې ترسره کوي.

د کرنې پوهنځي تشکیلاتي چارټ په لاندې توګه دی.




۲. شکل: د کرنې پوهنځي د استادانو او اداري کارکوونکو تشکیلاتي چارټ

**د کرنې پوهنځي د استادانو احصائیه**

۱. جدول: کرنې پوهنځي د استادانو احصائیه

| پوهنځی | علمي رتبه | | | | | | | علمي درجه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | پوهیالی | نامزد پوهنیار | پوهنیار | پوهنمل | پوهندوی | پوهنوال | پوهاند | لیسانس | ماستر | دوکتور |
| زراعت | ۰ | ۱ | ۲ | ۹ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۱۰ | ۱ |
| | | | | | | | | د تحصلي دورې په جریان کې | | |
| | | | | | | | | | ۱ | ۱ |
| مجموعه | | | | | | | | ۱۲ | | |

۲. جدول: د کرنې پوهنځي اداري او خدماتي کارکوونکو تشکیل

| احصائیه | استادان | | اداري کارونکې | | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|
| بستونه | کادري | افتخاري | مامورين | اجیران | |
| د تشکیل له مخې | ۱۲ | ۰ | ۴ | ۴ | ۲۰ |
| برحال | ۱۲ | ۰ | ۴ | ۴ | ۲۰ |

**دکرنې پوهنځي د محصلینو اړوند معلومات**

کرنې پوهنځي د خپل تحصیلي مزل له پیل څخه تر نن پورې په خپله لمنه کې ګڼ شمېر د مملکت ځوانانو ته د لوړو زده کړو ترلاسه کولو په پار ځای ورکړی دی او ورکوي یې او له دې منځه یې ګڼ شمېر په بشپړه مسلکی پوهه او اخلاقو سمبال او دیني ارزښتونو ته ژمن هغه روزلي او ټولنې ته د خدمت کولو په پار وړاندې کړي دي. لاندې جدولونه له (۱۴۰۹ – ۱۴۰۴) کلونو پورې د کرنې پوهنځي د فارغینو او برحاله محصلینو اړوند اعداد او ارقام ښیي.

۳. جدول: له (۱۳۹۷ – ۱۴۰۵) کلونو پورې د کرنې پوهنځي د فارغو شویو محصلینو اړوند ارقام

| ګڼه | کال | څانګه | | ټولګه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| | | اګرانومي | هارټیکلچر | | |
| ۱ | ۱۳۹۷ | ۳۱ | ۳۲ | ۶۳ | |
| ۲ | ۱۳۹۸ | ۲۸ | ۵۶ | ۸۴ | |
| ۳ | ۱۴۰۰ | ۴۴ | ۳۹ | ۸۳ | |
| ۴ | ۱۴۰۱ | ۴۳ | ۵۸ | ۱۰۱ | |
| ۵ | ۱۴۰۲ | ۶۴ | ۷۲ | ۱۳۶ | |
| ۶ | ۱۴۰۳ | ۴۸ | ۷۲ | ۱۲۰ | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۱۴۰۴ | ۳۱ | ۴۰ | ۷۱ | |
| ۸ | ۱۴۰۵ | ۳۳ | ۲۴ | ۵۷ | |
| کلي ټولګه | | ۷۱۵ | | | |

۴. جدول: کرنې پوهنځي د برحاله محصلینو اړوند ارقام

| ګڼه | څانګه | لومړی ټولګی | دوهم ټولګی | درېیم ټولګی | څلورم ټولګی | ټولګه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | اګرانومي | ۲۵ | ۲۱ | ۱۹ | ۳۳ | ۹۸ | |
| ۲ | هارټیکلچر | ۴۷ | ۲۱ | ۲۸ | ۲۴ | ۱۲۰ | |
| ۳ | کلي ټولګه | ۲۱۸ | | | | | |

۵. جدول: د کرنې پوهنځي د استادانو او اداري کارمندانو نسبت له محصلانو سره

| کرنې پوهنځی | | | اګرانومي څانګه | | | هارټیکلچر څانګه | | | اداري برخه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د استادانو تعداد | د محصلانو تعداد | نسبت | د استادانو تعداد | د محصلانو تعداد | نسبت | د استادانو تعداد | د محصلانو تعداد | نسبت | مدیران | د محصلانو تعداد | نسبت |
| ۱۲ | ۲۱۸ | ۱۸.۱۶ | ۶ | ۹۸ | ۱۶.۳ | ۶ | ۱۲۰ | ۲۰ | ۴ | ۲۱۸ | ۵۴.۵ |

**د کرنې پوهنځي اوسنۍ کړنې**

د وردګ پوهنتون کرنې پوهنځی ویاړي چې تر دې دمه یې د مملکت د ځوان نسل د اسلامي، علمي او مسلکي روزنې په برخه کې د لوړ مسؤلیت احساس، ژمنتیا او رښتینولۍ له مخې ارزښتناک خدمتونه ترسره کړي دي. دغه پوهنځی د کیفیت لرونکو لوړو زده کړو، علمي څېړنو، ټولنې ته د خدمت او د کرنې برخې د پرمختګ په موخه خپلې علمي او اداري چارې په منظم او دوامدار ډول پرمخ وړي.

**د پوهنځي مهمې رو انې کړنې په لاندې ډول دي:**

1. **د تدریس د کیفیت لوړول :** د معیاري تدریسي میتودونو، عصري تدریسي وسایلو او محصل‌محوره زده‌کړې له لارې د تدریس بهیر په لوړ کیفیت ترسره کول، ترڅو محصلین اړینې علمي او عملي وړتیاوې ترلاسه کړي.
2. **علمي څېړنې او د پوهې پراختیا :** د کرنې په بېلابېلو برخو کې د علمي څېړنو ترسره کول، د موجودو ستونزو لپاره د علمي حل‌لارو وړاندې کول، د حقایقو موندل او د علمي تشو ډکول، ترڅو د هېواد د کرنیز سکتور د ودې او پرمختګ لپاره اغېزمنې پایلې ترلاسه شي.
3. **د کیفیت د تضمین او لوړونې هڅې :** د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو معیارونو سره سم د تدریسي، څېړنیزو او اداري فعالیتونو دوامداره ارزونه او ښه‌والی، ترڅو د لوړو زده کړو ملي او نړیوال معیارونه پوره شي.

4. **د علمي ظرفیتونو لوړول** : د علمي کادر غړو د ظرفیت لوړولو، د علمي رتبو ترلاسه کولو، څېړنیزو فعالیتونو، سیمینارونو، کنفرانسونو او مسلکي روزنیزو پروګرامونو کې د ګډون لپاره دوامداره هڅې.
5. **د لوړو زده کړو دوام** : د استادانو د علمي سویې د لوړولو په موخه د ماسټرۍ او دوکتورا پروګرامونو تعقیبول، ترڅو د پوهنځي علمي او څېړنیز ظرفیت لا پیاوړی شي.
6. **د نظم، ډسپلین او اداري اصولو پیاوړتیا** : د تدریسي او اداري چارو په ټولو برخو کې د نظم، انضباط، شفافیت او مسؤلیت‌پذیرۍ د فرهنګ پیاوړتیا او د پوهنتون د نافذه لوایحو او مقرراتو عملي کول.
7. **د تحصیلي نصاب او کرېکولم بشپړ تطبیق** : د لوړو زده کړو وزارت د منظور شوي نصاب او کرېکولم مطابق د درسي موادو تدریس، د عملي او نظري درسونو اغېزمن تطبیق او د نصاب دوامداره ارزونه.
8. **د ارزونې او کیفیت سنجونې چارې** : د محصلینو د علمي پرمختګ منظم ارزول، د تدریسي بهیر ارزونه، د استادانو د فعالیتونو څارنه او د پوهنځي د علمي او اداري فعالیتونو دوامداره اصلاح او پرمختګ.
9. **عملي زده‌کړې او کرنیزې تجربې** : د کرنیزو فارمونو، لابراتوارونو او عملي ساحوي فعالیتونو له لارې محصلینو ته د عملي مهارتونو برابرول، ترڅو د کار بازار اړتیاوو ته چمتو او وړ مسلکي کادرونه وروزل شي.
10. **ټولنې ته د خدمت فعالیتونه** : د بزګرانو، کرنیزو مؤسسو او سیمه‌ییزو ټولنو سره د علمي همکاریو پراختیا، د روزنیزو پروګرامونو، مشورو او عامه پوهاوي له لارې د کرنې د پرمختګ او دوامدارې پراختیا ملاتړ.

۶. جدول: کرنې پوهنځي د فزیکي چاپېریال تحلیل

| ګڼه | د زېربناء ډول | موجودیت | کتنې |
|---|---|---|---|
| ۱ | تدریسي معیاري ودانۍ | ✓ | |
| ۲ | کتابتون | ✓ | یو نسبتا مجهز کتابتون لرو خو پوهتون د کتابتون څخه هم استفاده کوو |
| ۳ | څېړنیز فارم | ✓ | مجهز څېړنیز فارم شتون لري چې اوسمهال د دواړو دیپارتمنتونو(اګرانومي او هارتیکلچر) اړوند څېړنې پکې تر سره کیږي. |
| ۴ | لابراتوار | ✓ | د ښوونې او روزنې پوهنځی د لابراتوار څخه استفاده کوو او لابراتواروسایل اخستلو پروسه تر کار لاندې ده |
| ۵ | د غونډو تالار | ✓ | د پوهنتون د غونډو تالار څخه استفاده کوو |
| ۶ | خوړنځای | ✓ | د پوهنتون په سطحه شتون لري |
| ۷ | څېړنیز مرکز | ✓ | د پوهنتون په سطحه شتون لري |
| ۸ | مسجد شریف | ✓ | د پوهنتون په سطحه شتون لري |
| ۹ | فوتوکاپي او کانتین | ✓ | د پوهنتون په سطحه شتون لري |
| ۱۰ | معلوماتي ټکنالوژي مرکز | ✓ | د پوهنتون په سطحه شتون لري |
| ۱۱ | لومړنیو روغتیایي خدماتو مرکز | ✓ | د پوهنتون په سطحه شتون لري |

**لرلید (Vision)**

کرنې پوهنځي په پام کې لري چې د کرنیزې برخې ، معیاري څېړنو او نوښت په برخه کې یو مخکښ علمي بنسټ وي.

**رسالت (Mission)**

کرنې پوهنځي د معیاري تحصیلي نصاب، علمي څېړنو، مناسب چاپېریال او نوې ټکنالوژۍ په مرسته د کرنیزې برخې د پرمختګ لپاره، مسلکي، نوښتګر او په اسلامي ارزښتونو سمبال کادرونه روزي.

د کرنې پوهنځي لرلید او رسالت ،د پوهنځي د علمي شورا په ( ۲ ) ګڼه او (۱۴۰۵/۰۲/۲۸ ) نېټه غونډه کې تائید شوي دي. له هغه وروسته د دې پوهنځي لرلید او رسالت د (۱۰۵۴) (۱۴۰۵/۰۳/۱۲) ګڼه او نېټې په اساس د وردګ پوهنتون علمي شورا ته د منظوري لپاره لېږل شوي دي. یاد لرلید او رسالت د لازمو تغیراتو په راوړلو سره د رایو په یووالي د وردګ پوهنتون په علمي شورا کې د ( ۲ ) ګڼه او (۱۴۰۵/۰۳/۱۳) نېټه غونډه کې تائید او د وردګ پوهنتون د علمي شورا د ( ۴۶۶ ) ګڼه او (۱۴۰۵/۰۳/۱۶) نیټې لیک په واسطه رالېږل شوي دي.

**ارزښتونه**

1. اسلامي ارزښتونو ته ژمنتیا.
2. باکیفیته لوړې زده کړې.
3. جواب ګویي صداقت او متقابل احترام.
4. مسلکي کیدنه، سالمه اداره او اغېزمنتوب.
5. هڅه، خلاقیت او ابتکار.
6. ابتکارات او نوښتونه.
7. په ټولو چارو کې شفافیت او روڼتیا.
8. ګډ کار کول او همغږي رامنځ ته کول.
9. د عصري او پرمختللې ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیستل .

**اوږد مهاله (ستر اتیژیک)ې موخې:**

1. د کرنې پوهنځي د زیربناوو پراختیا: (د لابرتوارونو ایجاداو تجهیز، کتابتون ایجاد او تجهیز، د څېړنیزفارم تجهیزول د تحصیلي او د عملي زده کړو پیاوړتیا).
2. ښه حکومت ولي او رهبري (د شفافیت، حساب ورکونې، کیفیت تضمین پیاوړتیا).
3. لوړو زده کړو ته لاس رسی او عایدات ترلاسه کول (د معیاري نصاب، عصري تدریس، نوې ټکنالوژۍ او اسلامي ارزښتونو پر بنسټ د مسلکي او نوښتګرو کادرونو روزنه، د علمي او تحصیلي برنامو پراختیا او د ټولنې د اړتیاوو پر بنسټ د نوو برنامو رامنځته کول)
4. د کرنې په برخه کې علمي او څېړنیز خدامات ( د معیاري، تطبیقي او نوښتګرو علمي څېړنو پیاوړتیا د علمي مقالو، تألیفاتو، ژباړو، سمینارونو، کنفرانسونو او د تحصیلي نصاب دوامداره بیاکتنه او د کرنیز سکتور د اړتیاوو سره سمه پراختیا.
5. ظرفیت لوړول: ( د علمي کادرونو او اداري کارکوونکو د علمي او مسلکي ظرفیتونو لوړول).

6. په ټولنه کې ونډه: ( د داخلي او نړیوالو علمي همکاریو پراختیا او د معیاري زده کړو، علمي څېړنو او نوښت له لارې د کرنیز سکتور په پرمختګ کې اغېزمنه ونډه اخیستل).

**۷. جدول: د اوسنۍ تشکیل پراختیا.**

| ګڼه | کلونه | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ۱۴۰۷ | ۱۴۰۸ | ۱۴۰۹ | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | استادان | ۱۲ | ۴ | ۴ | ۰ | ۴ | په ۱۴۰۹ کال کې به د پنځو څانګو په درلودلو سره ۳۲ تنه استادا او اداري کارکوونکي ولرو |
| ۲ | اداري کارکوونکي | ۴ | ۲ | ۰ | ۱ | ۱ | |

۸. جدول: لېسانس استادان ماستري پروګرام ته لیږل

| اوسنی تشکیل | | کال | | | | | په پنځو کلونو کې ماستري او دوکتورا ته د استادانو لېږل |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لېسانس | ماستر | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ۱۴۰۷ | ۱۴۰۸ | ۱۴۰۹ | |
| ۱ | ۱۰ | ۰ | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ | |

۹. جدول: ماستر استادان دوکتورا پروګرام ته لیږل

| اوسنی تشکیل | | کال | | | | | په پنځو کلونو کې ماستري او دوکتورا ته د استادانو لیږل |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ماستر | دکتور | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ۱۴۰۷ | ۱۴۰۸ | ۱۴۰۹ | |
| ۱۰ | ۱ | ۳ | ۰ | ۰ | ۲ | ۲ | |

۱۰. جدول: کرنې پوهنځي د راتلونکو پنځوکلونو لپاره د علمي برنامو د تأسیس او پرمختیا پلان

| ګڼه | موجوده څانګې | نوې څانګې | ماستري پروګرام | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ۱۴۰۷ | ۱۴۰۸ | ۱۴۰۹ | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | اګرانومي | نبات ژغورنه | | | | | | | |
| ۲ | هارتیکلچر | حیواني علوم | | | | | | | |
| ۳ | | کرنیز اقتصاد او پراختیا | | | | | | | |
| ۴ | | | هارتیکلچر | | | | | | |

۱۱. جدول: د راتلونکو پنځه کلونو لپاره د کرنې پوهنځي د محصلینو احصائیه

| ګڼه | پوهنځی | اوسنی حالت | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ۱۴۰۷ | ۱۴۰۸ | ۱۴۰۹ | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کرنې پوهنځي | ۲۱۸ | ۳۱۱ | ۴۹۴ | ۶۴۷ | ۷۷۲ | ۸۹۷ | د یوې نوې ځانګې محصلین هم ورسره جمع شوي دي |

**د چاپېريالي عواملو تحلیل (SWOT Analysis)**

اوږد مهاله ستراتیژیک پلان د کرنې پوهنځي اوږد مهاله (ستراتیژیکې) موخې ټاکي او همدې موخو ته د رسېدو لپاره مسیر او اړوندې لازمې کړنې په ګوته کوي. موخو ته رسېدل تر هغې ناشوني وي، ترڅو پوهنځي له خپلو پیاوړتیاوو، کمزوریو، فرصتونو او ګواښونو څخه بشپړ درک او په لاملونو یې هر اړخیز غور ونه کړي. د دې لپاره چې د کرنې پوهنځي پورته ذکر شوو مواردو په اړه پوره معلومات تر لاسه کړي، نو یاد پوهنځي د راتلونکو پنځو کلونو لپاره خپل علمي، اداري، څېړنیز او فزیکي وضیعت هر اړخیزه ارزولې تر څو د ارزونې د پایلو پر بنسټ د پرمختګ، ودې او اوږد مهاله (ستراتیژیکو) موخو د تر لاسه کولو لپاره اغېزمن او عملي پلان ترتیب کړي. په همدې اساس، د چاپېريالي عواملو تحلیل د هغو مهمو فکتورونو له ډلې څخه ګڼل کیږي چې د کرنې پوهنځي پر اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان مستقیم اغېز لري.

د کرنې پوهنځي اداري د پوهنځي اوسنی وضعیت، داخلي ظرفیتونه او بهرني چاپېریال په هر اړخېز ډول ارزولی او تحلیل کړی دی. د همدې تحلیل د پایلو پر بنسټ، د وردګ پوهنتون د اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان او د لوړو زده کړو وزارت د اوږد مهاله (ستراتیژیکو) لومړیتوبونو په رڼا کې اړوند عوامل د کرنې پوهنځي په پنځه کلن اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان کې ځای پر ځای شوي دي. د چاپېريالي عواملو د تحلیل په برخه کې لومړی د پوهنځي د داخلي چاپېریال عوامل (پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې) او وروسته د بهرني چاپېریال عوامل (فرصتونه او ګواښونه) په تفصیل سره تر تیب او تحلیل شوي دي.

**د بېروني چاپېریال د عواملو تحلیل او تجزیه**

د کرنې پوهنځي د پنځه کلن اوږد مهاله (ستراتیژیک) پلان د SWOT تحلیل دویمه برخه د بهرني چاپېریال د عواملو تحلیل او تجزیه ده. د بهرني چاپېریال عوامل هغه فکتورونه دي چې د کرنې پوهنځي له کنټرول او واک څخه بهر دي، خو د پوهنځي پر داخلي چاپېریال، علمي، څېړنیزو، تدریسي او اداري فعالیتونو مستقیم او غیر مستقیم اغېز کوي. د دې برخې د تحلیل لپاره مسلکي ټیم د کرنې پوهنځي د پنځه کلن ستراتیژیک پلان د ترتیبولو پر مهال د بېروني چاپېریال ټول اړوند عوامل (ذیدخل ادارو، سکتوری ریاستونو، همکار پوهنتونونو، بیرونیو متخصصینو، کاریوهانو فارغ شویو محصلانو او استخدام کوونکو) د پوښتنپابو له طریقه تر مطالعې لاندې نیولي او د کرنې پوهنځي د اوسني او راتلونکي وضیعت په اړه یې اړین معلومات ترلاسه کړي.

د بهرني چاپېریال عوامل د بهرني عواملو د ارزونې د مټریکس (External Factor Evaluation Matrix – EFEM) پر بنسټ تحلیل شوي دي، چې په هغې کې د کرنې پوهنځي فرصتونه او ګواښونه په علمي او سیستماتیک ډول ارزول شوي او د اوږد مهاله (ستراتیژیک) موخو د تر لاسه کولو لپاره ترې استفاده شوې ده. د بهرني چاپېریال د تحلیل پایلې په لاندې فرصتونو او ګواښونو کې وړاندې شوي دي.

**د کرنې پوهنځي د داخلي او بېروني چاپېريال د عواملو پرتله کول**

په دې برخه کې د کرنې پوهنځي د چاپېريال د داخلي او بهرنيو اصلي عواملو څخه د استفادې په موخه د SWOT تحليل او همدارنګه د داخلي او بهرنيو عواملو د Matrix (IE) څخه استفاده شوې ده، ترڅو وښيي چې د کرنې پوهنځي ټاکل شوې ستراتيژۍ د پوهنځي له مأموريت، ليدلوري او د چاپېريال له داخلي او بهرنيو عواملو سره څومره مطابقت لري. په دې برخه کې د کرنې پوهنځي د اوږد مهاله (ستراتيژيک) موقعيت د ټاکلو لپاره د (IE) مټريکس ميتود کارول شوی دی.

**د (IE) تګلاره**

د داخلي او بېروني چاپېريال د عواملو د هم مهاله تجزيې او تفسير لپاره د داخلي او بېروني چاپېريال د عواملو د مټريکس په نوم ابزار کارول شوي، دا مټريکس د تحصيلی بنسټونو د موقف او حالت د ټاکلو لپاره استعماليږي، د دې مټريکس د جوړولو لپاره بايد د داخلي او بيروني عواملو د مټريکس څخه ترلاسه شوي ارقام يا نمرې د دې مټريکس په افقي او عمودي ابعادو کې ځای پر ځای کېږي، تر څو د تحصيلي بنسټ ستراتيژيک موقيعت د دې مټريکس په ساحه کې څرګند، او د همدې موقيعت پر بنسټ مناسبه ستراتيژۍ وټاکل شي. د داخلي او بېروني مټريکس په دوه شکلونو وړاندې کېږي، چې يوه ته يې نهه خانه يي مټريکس او بل ته يې څلور خانه يي مټريکس ويل کېږي .

د داخلي او بېروني (IE) مټريکس له مخې د کرنې پوهنځي د اوسني اوږد مهاله (ستراتيژيک) موقعيت ټاکنه

د کرنې پوهنځي د چاپېريال د داخلي او بهرنيو عواملو د ارزونې د پايلو له مخې څرګندېږي چې د داخلي عواملو د ارزونې مټريکس (IFEM) څخه ترلاسه شوې نمره( ۲.۸۷) او د بهرنيو عواملو د ارزونې مټريکس (EFEM) څخه ترلاسه شوې نمره (۲.۹۴ )ده. د دغو نمرو د افقي او عمودي محورونو پر بنسټ د (IE) مټريکس په ترسيم کې د دواړو ارزښتونو د تقاطع نقطه د مټريکس په دريمه (III) خانه کې واقع کېږي. له همدې امله ويلای شو چې د کرنې پوهنځي اوسنی اوږد مهاله (ستراتيژيک) موقعيت په پرمختيايي (Growth and Build)حالت کې قرار لري. دا حالت څرګندوي چې پوهنځی د خپلو داخلي ظرفيتونو او بهرنيو فرصتونو په اغېزمنې استفادې سره د ودې، پراختيا، علمي کيفيت لوړونې، د نويو علمي پروګرامونو د رامنځته کولو او د څېړنيزو فعاليتونو د پياوړتيا مناسب ظرفيت لري.

د داخلي او بيروني (IE) تګلارې په واسطه د پوهنځي اوسنی موقعيت




۳. شکل: د داخلي او بيرونيو عواملو پر بنسټ په څلور خانه يي متريکس کې د پوهنځي موقعيت ښودل شوی دی

د داخلي او بهروني (IE) چاپېريال نهه خانه یې طریقې په واسطه د کرنې پوهنځي اوسنی موقیت




۴. شکل: د باندنیو او داخلي عواملو پر بنسټ په نه خانه یي متریکس کې د پوهنځي موقعیت ښودل شوی دی

د نهه خانه یې مټریکس د اصولو له مخې هر کله چې د یوه تحصیلي بنسټ د داخلي او بهروني چاپېریال د عواملو له تحلیل تر لاسه شوی عدد یا مټریکس په (II,III,IV) ناحیو کې یو بل سره قطع کړي، د نوموړي تحصیلي بنسټ ستراتیژیک موقیعت پرمختیایي کڼل کیږي. او که چیرې لاسته راغلي مټریکس په (I,V,IX) په ساحه کې وي، نو دي حالت کې سازمان د محافظتي ستراتیژیک موقعیت کې قرار لري. په همدې ډول که چېرې د عدد د تقاطع نقطه (VI,VII,VIII) په ناحیو کې قرار ولري، تحصیلي بنسټ په دفاعي حالت کې دی او ستراتیژۍ یې هم دفاعي حالت غوره کېږي.

**د تګلارو (ستراتیژیو) ټاکنه**

هغه ستراتیژۍ چې د کميټي اوږد مهاله (ستراتيژيک) پلان جوړونې د متریکس (Quantitative Strategic Planning Matrix) (QSPM) د تحلیل پر بنسټ ټاکل کېږي، د ستراتیژیو (تګلارو) ترمنځ د لومړیتوبونو د معلوموملو لپاره کارول کېږي. د همدې تحلیل له مخې، امکان لري چې مناسبې ستراتیژۍ د اوږدمهالو پلانونو په چوکاټ کې وټاکل شي، چې دلته يې د بېلګې په توګه يادونه شوې ده. په دې پړاو کې، د کميټي اوږد مهاله (ستراتيژيک) پلان جوړونې متريکس د تطبيق په مرحله کې د ستراتیژیو (تګلارو) بېلابېل بدیلونه تشخيص او ارزوي، او هرې ستراتيژۍ ته د هغې د اهميت له مخې لومړيتوب ټاکي. د ستراتیژیو (تګلارو) د نسبي جذابيت او ټاکل شوو لومړيتوبونو پر اساس، د پوهنځي د اوږد مهاله (ستراتيژيک) پلان کمېټه بايد تر ټولو مناسبو ستراتیژیو (تګلارو) د انتخاب په اړه وروستۍ پرېکړه وکړي. د دې طريقې په کارولو سره، دا امکان برابرېږي چې ګڼ شمېر بديل ستراتيژۍ وپېژندل او پرتله شي.

**ستراتیژیک محوره او د پلې کېدو لومړیتوبونه**

د سرتاتيژيک پلان په څلورو بستیزو محورونو ولاړ دی. لومړی محور، غوره حکومتولي او رهبري، د رڼې پرېکړې نيونې، مسؤليت منل، ګډ مديريت، د اداري ظرفيت لوړولو او د منظمې څارنې او ارزونې پر پياوړتيا تمرکز کوي. دويم محور، علمي پروګرامونه، د نصاب د بياکتنې، د تدريس د کيفيت لوړولو، د علمي کادر د مسلکي پرمختګ، د څېړنې د پراختيا او د زده کړې د نوې تکنالوژۍ د کاروني زده کړې غوښتنه کوي. دريم محور، خدمتونه، د محصلانو لارښوونې، مشورې، علمي ملاتړ، برېښنايي خدمتونو او د محصل محورې زده کړې د پياوړتيا لپاره طرحه شوې ده. څلورم محور، زيربناوې، د تدريس چاپېريال، کتابتون، د عملي زده کړو لپاره د زمينې په موخه د فارم تجهيز او د لابراتوارونو ايجادولو او نورو اړينو فزيکي امکاناتو د پراختيا پر اړتيا ټينګار کوي .د پلان پلي کول بايد د کلنيو عملياتي پلانونو له لارې ترلاسه. هره ستراتيژيکه موخه بايد له مشخصو فعاليتونو، مسؤلو واحدونو، مهالوېش، اړينې بوديجې او د پايلو له ترلو شاخصونو ترلاسه شي. بوديجه بايد د لومړيتوبونو پر بنسټ تنظيم شي او د سرچينو د محدوديت پر وخت بايد کاروني اغېزمن منظم مالي مديريت رامنځته شي. همدارنګه، د پرمختګ دوامداره څارنه، دوره يي ارزونه او د پايلو مستندکول اړين دي. که د پلې کېدو پر مهال ستونزې يا انحرافات رامنځته شي، بايد د اصلاحي اقداماتو له لارې دپلان فعاليتونه بيا تنظيم شي.

**عمومي پايله**

وردګ پوهنتون د کرنې پوهنځي د ۱۴۰۵–۱۴۰۹ هـ.ش کلونو پنځه کلن اوږد مهاله (ستراتيژيک) پلان د پوهنځي د اوسني وضعيت، داخلي او بهرني چاپېريال، علمي او څېړنيزو ظرفيتونو او د کرنيز سکتور د اړتياوو د هر اړخيز تحليل پر بنسټ ترتيب شوی دی. د دې پلان اساسي موخه د علمي کيفيت لوړول، د تدريس او عملي زده‌کړو پياوړتيا، د علمي څېړنو پراختيا، د زيربناوو معياري کول، د استادانو او اداري کارکوونکو د ظرفيت لوړول او د ټولنې له اړتياوو سره سم د مسلکي کادرونو روزنه ده.

د داخلي او بهرنيو عواملو د ارزونې پايلې، چې د داخلي عواملو لپاره ۲.۸۷ او د بهرنيو عواملو لپاره ۲.۹۴ نمرې ښيي، څرګندوي چې کرنې پوهنځی د ودې او پراختيا مناسب ظرفيت لري. د همدې ارزونې پر بنسټ، د پوهنځي د پرمختګ لپاره د غوره حکومتولۍ او اغېزمنې رهبرۍ پياوړتيا، د علمي او څېړنيزو فعاليتونو پراختيا، د نويو علمي برنامو رامنځته کول، د څېړنيز فارم او لابراتوارونو تجهيز، د کيفيت د تضمين معيارونو پلي کول او له علمي او مسلکي بنسټونو سره د همکاريو پراخول اړين ګڼل کېږي.

د ياد پلان د بريالي تطبيق لپاره به د هر کال عملياتي پلانونه ترتيب، اړينې سرچينې او بوديجه مشخصې، مسؤليتونه ووېشل او د فعاليتونو د پرمختګ څارنه او دوره‌يي ارزونه ترسره شي. په پايله کې، د استادانو، محصلينو، اداري کارکوونکو، د پوهنتون د رهبرۍ او همکارو ادارو په ګډو هڅو سره به زمينه برابره شي چې د کرنې پوهنځی خپل علمي، څېړنيز او اداري ظرفيتونه پياوړي کړي، د کرنيز سکتور اړتياوو ته اغېزمن ځواب ووايي او د هېواد د کرنې د دوامدار پرمختګ او خوړو خونديتوب په برخه کې اغېزمنه ونډه واخلي.